مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور اخڑ

۲۰۲۵/۰۷/۲۱

د یهودو عادلانه جګړې

(څلور نویمه برخه)

د امریکا مرستې او ملاتړ، د اسراییلو غبرګون(۱)
د صهیونستانو شیطاني کړنې

امریکایان د خپلو ستراتیژیکو همکاریو په ترڅ کې له اسراییلي صهیونستانو سره له آره په ډېرو جنایتونو کې شریک دي خو په لومړیو کې کله، کله امریکایي چارواکو د اسراییلو د ناوړه او تېري کوونکو کړنو او جګړو له امله پر اسراییلو نیوکې هم کولې او یا به د ځینو جګړو پر مهال، د لنډې مودې لپاره بې پرې پاتې کیدل.
خو د امریکا د دا ډول دریځ په غبرګون کې اسراییلو له خپل شیطاني چلول څخه کار اخیست، داسې چې اسراییلو د خپلو دښمنو هېوادونو پر وړاندې د امریکایانو د پاروللو او په جګړه کې د ښکېل کولو تکتیکونه پلي کول چې د دا ډول شیطاني چلونو یوه زړهبورنوونکي بېلګه د اسراییلي ځواکونو لهخوا د امریکا متحده ایالاتو د سمندري ځواکونو د (سي.ای.ای) سازمان د سیګنالونو د کشف یوه استخباراتي بېړۍ، **(یو.اېس.اېس لیبرټي - USS Liberty)** بمبارول وو چې په رښا ورځ یې د مدیترانې سمندر په بین‌المللي اوبو کې وویشتله، دغه پېښه چې د امریکا د متحده ایالاتو د سمندري ځواکونو په تاریخ کې، د سولې پر مهال تر ټولو خونړیو او حیرانوونکو پېښو څخه ده، له بده مرغه چې امریکایانو د خپلو وژل شویو سرتېرو هېڅ ډول جدي پوښتنه له اسراییلو ونه کړه، برعکس چې د اسراییلو د دا ډول ناوړه عمل د پټولو کوښښونه یې هم کول.
غواړم په دې اړه نفصیلي مالومات وړاندې کړم، ترڅو د امریکا پر وړاندې د اسراییلو غداري او د امریکایانو بېکفایتي او نامناسب غبرګون څرګند کړو:
د امریکا پر یو.اېس.اېس لیبرټي بېړۍ باندې هغه مهال اسراییلي ځواکونو برید وکړ چې د اسراییلو او عربي هېوادونو: مصر، سوریې، اردن او عراق ترمنځ شپږ ورځنۍ جګړه روانه وه. دا جګړه چې د ۱۹۶۷ز. کال د جون پر ۵مه نېټه پیل شوه.[1] د دغې شپږ ورځنۍ جګړې پر مهال متحده ایالاتو د بېطرفۍ حالت غوره کړی ؤ.[2]
د جګړې په لومړیو کې د مصر او سوریې پر بندرونو باندې د اسراییلو سمندري ځواکونو بریدونه ناکام شول چې له امله یې د اسراییلو اندېښنې زیاتې شوې. امریکا مخکې له جګړې د اسراییلو دا غوښتنه نه وه منلې چې یوه سمندري اړیکه دې د دوی د ځواکونو ترمنځ شتون ولري. په واشنګټن کې د اسراییلو سفیر (آوراهام هارمن) د مې په ۳۱مه نېټه د امریکا د بهرنیو چارو مرستیال وزیر (یوجین ویکتور دبز روستو) ته خبر ورکړ چې که جګړه پیل شي، موږ به هېڅ ډول د اړیکو شمېره او د هوایي نښو د تشخیص کوډ ونه لرو او نه به د امریکا د شپږم سمندري ځواک سره کومه اړیکي ولرو.
یو.اېس.اېس لیبرټي ځارګره بېړۍ په لسګونو انتنونو باندې سمبال شوې او د رادیویي څپو د کشف او اخځ په موخه جوړه شوې وه. دنده یې دا وه چې د عربي هېوادونو مخابراتي اړیکې وڅاري.

[1]: https://www.britannica.com/event/USS-Liberty-incident
[2]: ګرهارد و میلینګټون ۱۹۸۱ ، ص. ۱

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د جون ۸مه نېټه وه چې د امریکا د (سي.ای.اې) دغه څارګره بېړۍ د مدیترانې په سمندر کې، د سینا ټاپووزمې شمال ته، شاوخوا (۴۷/۲) سمندري کیلومټره، د مصر د (عریش) ښار په شمال‌لوېدیځ کې په نړیوالو اوبو کې ولاړه وه.[3] چې په دې ورځ د اسراییلو څو کشفي الوتکو د بېړۍ پر سر الوتنې وکړې. **په داسې حال کې چې لیبرټي بېړۍ د امریکا بیرغ پورته کړی ؤ او د بېړۍ پر بهرنیو اړخونو باندې د پېژندنې لپاره په غټو ټکو د (GTR-5)[4] کوډنښې په ښکاره ډول لیکل شوي وې.**[5]

لږه موده وروسته د ماسپښین په ۳:۰۵ بجو **د اسراییلو دوو فرانسوي (میراژ) نومي جګړه‌ییزو الوتکو پر لیبرټي بېړۍ د ۳۰ملي‌متري توپونو ډزې پیل کړې.** حال دا چې لیبرټي بېړۍ د دفاع وړ وسلې نه درلودلې، یوازې څلور میله درندې ماشن‌ګڼې یې لرلې.[6]

کله چې په منځني ختیځ کې د عربو او اسراییلو تر منځ جګړه پیل شوه، د یو.اېس.اېس، لیبرټي بېړۍ کپټان (ویلیم اېل مک‌ګوناګل) د امریکا د شپږم سمندري ځواک له مرستیال، مارشال (ویلیم آی مارتین) څخه غوښتنه وکړه چې لیبرټي بېړۍ دې یوه وسله‌واله بېړۍ بدرګه کړي او د اړیکو مرستندویه مرکز هم باید ولرو. مارشال مارتین وویل: لیبرټي بېړۍ یوه پېژندل شوي امریکایي بېړۍ ده، دا کومه جګړه‌ییزه بېړۍ نه ده او نه هم داسې څه هدف دی چې برید پرې وشي. هغه د مک‌ګوناګال غوښتنه ونه منله[7] خو ژمنه یې وکړه چې که کوم برید وشي نو جګړه‌ییزې الوتکې به په لس دقیقو کې درورسیږي.

دا مهال چې پر نوموړي بېړې د اسراییلو هوایي بمبار دوام درلود، د بېړۍ ځینو کسانو هڅه وکړه، پر برید کوونکو الوتکو ډزې وکړي. خو دا توپونه او د بېړۍ مخابراتي انتنونه د اسراییلي الوتکو له‌خوا ډېر ژر له منځه یوړل شول. د بېړۍ انټنونه ویجاړ او پرې کړای شول، د ګاز ډبې وسوځېدې او **د بېړۍ پر سر بیرغ ښکته راپرېوت.** وړاندې له هغې چې د بېړۍ مخابراتي اړیکې غوڅې شي د بېړۍ قوماندان مک‌ګوناګل سم‌دلاسه داسې پیغام ولېږه:**«د ناپېژندل شویو جګړه‌ییزو، جټ الوتکو تر برید لاندې یم، بیړنۍ مرسته غواړم!»**
ورپسې د اسراییلو د هوایي ځواک، یوه بله فرانسوۍ (داسو سوپر میستر) جګړه‌ییزه الوتکه راغله چې **یو (ناپالم) بم یې پر بېړۍ وغورځاوه او د توپونو ډزې یې هم پیل کړې چې له امله یې د بېړۍ په لویه برخه کې اور پورې شو. په دې بهیر کې د ماسپښین شاوخوا په ۳:۲۰ بجو، درې اسراییلي وړې چټکې جګړه‌ییزې بېړۍ، لیبرټي بېړۍ ته نږدې شوې او پر بېړۍ یې د درندو وسلو ډزې پیل کړې.**[8]
د لیبرټي کارکوونکي (عمله) وایي کله چې موږ ته د بېړۍ د پرېښودلو امر وشو او موږ غوښتل په هغو کوچنیو بېړیو کې چې په لیبرټي بېړۍ کې موجودې وې ځانونه وژغورو، نو دا مهال د اسراییلي بېړیو له‌خوا په اتومات ډزو سره د بېړۍ پورته برخه په نښه شوه تر څو د بېړې د کارکوونکو مخه ونیول شي چې د ژغورنې وړو بېریو ته ځانونه ونه شي رسولې او یو شمېر دغه د ژغورنې وړې بېړۍ یې په ډزو له منځه یوړې.[9] په پای کې د اسراییلو برید د ماسپښین په ۴:۳۰ بجو ودرول شو، د اسراییلي چارواکو په وینا، دا هغه وخت ؤ چې دوی پوه شول چې بېړۍ امریکایۍ ده.

---

[3]: "[a b c] برچسب. "Wikimapia.org بایگانی شدهاز نسخه اصلی در ۱۴ دسامبر ۲۰۰۶ .بازیابی شده در ۱۷ ژوئن ۲۰۱۰

[4]: GTR-5کوډ: کشفي تخنیکي او څېړنیزه ۵مه شمېر بېړۍ. د امریکا د یو.اېس.اېس GTR-5 انګریزي مخفهو تورو مانا څه ده؟

[5]:https://www.britannica.com/event/USS-Liberty-incident

[6]:هماغه سرچینه.

[7]: اینیس ۱۹۸۷ ، صفحات ۳۸–۳۹

[8]:https://www.britannica.com/event/USS-Liberty-incident

[9]: اینیس ۱۹۸۷ ، صفحات ۹۵–۹۶
https://en.wikipedia.org/wiki/USS_Liberty_incident#CITEREFEnnes1987

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

اسراييلو په دغه برید کي د لیبرټي بېړۍ(۳۴) تنه د بېړۍ کارکوونکي ووژل چې په هغو کي د سمندري ځواکونو افسران، بېړۍچلوونکي (مانوګان) سمندري پوځیان او یو تن د ملي امنیت اداري ملکي کارکونکی شامل وو، (۱۷۱) تنه نور کسان ژوبل شول او بېړۍ ته سخت تخنیکي او فزیکي زیانونه واوښتل.[10]

د امریکا ولسمشر (لیندن بي جانسون) ته د امریکا د ګډو ځواکونو لەخوا خبر ورکړل شو چې پر یواس‌اس لیبرټي بېړۍ باندې د یوې نامالومې بېړۍ لەخوا برید شوی دی. جانسون داسي ګومان وکړ چې ښایي په دې برید کي د شوروي اتحاد لاس وي نو هغه مسکو ته د پېښې خبر ورکړ. چې په ټراؤ یې د امریکا جګړه‌ییزې الوتکې له ساراتوګا امریکایی بېړۍ څخه هوا ته پورته شوې دي.[11] لږ وروسته، اسراییلو اعلان وکړ چې موږ په تېروتني سره پر لیبرټي بېړۍ باندې برید کړی دی. د جانسون حکومت د اسراییلي سفیر (آوراهام هارمن) ته خپله سخته خوشیني څرګنده کړه.

اسراییلو پر نوموړي بېړۍ شاوخوا (یو ساعت پنځه‌ویشت) دقیقې له هوا او سمندر څخه ډزې روانې ساتلې وې، **تر دې چې په بېړۍ کې د ډزو له امله د ۱۲مترو په اوږدوالي او ۷.۳متره سورور یو لوی سوری جوړ شوی وۀ**[12] او نور سخت زیانونه هم ورسیدلي وو خو اسراییلي ځواکونو ونه شول کولی بېړۍ ډوبه کړي نو کله چې صهیونستان په خپل شیطاني پلان کي ناکام شول. سمدلاسه، په ډېرې بېړې سره د اسراییلو لومړي وزیر (لوي اشکول)، د بهرنیو چارو وزیر (آبا ایبان) او د هغوی یو بل لوړپوړي چارواکي (افرایم اورون) ښښي وغوښتلې او په ۴۸ ساعتونو کي دننه، اسراییلو وړاندیز وکړ چې د قربانیانو او د هغوی د کورنیو لپاره غرامت[13] ورکوي.[14]

د اسراییلي صهیونستانو د دغه ناکام پلان په پټولو کي د هغه مهال د امریکا له ولسمشر نیولي بیا تر پلټونکو ډلو او محاکمو پورې ټولو کوښښ وکړ چې پېښه کوچنۍ وښیي او د اسراییلو څرګندوني چې (ګواکي برید سهواً رامنځ ته شوې دی) تایید او رښتیا وبولي. په دې هکله د امریکا د کالیفرنیا د (برکلي) پوهنتون استاد جورج لنچوفسکي وایي چې **«دا د پام وړ وه چې د امریکا د متحده ایالاتو ولسمشر جانسون، د امریکا د بهرنیو چارو وزیر پر خلاف، د اسراییلو وینا په بشپړه توګه ومنله.**
جانسون د خپلو خاطراتو په کتاب کي د لیبرټي بېړۍ د پېښې په اړه یوازې یو کوچنی پاراګراف لیکلی دی چې په هغه کي یې د اسراییلو څرګندوني منلې او موضوع یې کم‌ارزښته ښودلې او د قربانیانو شمېر یې له ۳۴ وژل شویو کسانو څخه ۱۰ تنه او له ۱۷۱ ټپیانو څخه ۱۰۰ تنو ته راتیټ کړی دی.[15]
په داسي حال کي چې ولسمشر جانسون له برید وروسته باوري وۀ چې برید اسراییلو قصداً کړی او د برید علت یې هم یاد کړی وۀ، جانسون د نیوزویک یوه خبریال ته وویل چې **باور لري دا برید عمدي وۀ.** جانسون فکر کاوه چې د اسراییلو موخه دا وه چې لیبرټي بېړۍ د اسراییلي مخابراتو د پټو خبرو مخه ونیسي.[16] خو وروسته د امریکا ولسمشر جانسون دریځ بدل شو، څه چې د اسراییلي صهیونستانو له خولې راوتلې، نوموړي به هم هماغه خبرې تکرارولې، **تر دې چې «د لیبرټي بېړۍ کپتان مک‌ګوناګل ته د هغه د زړوروتیا له امله د امریکا تر ټولو لوړ پوځي (د ویاړ مډال) چې معمولاً**

---

[10]: ګرهارد و میلینګټون ۱۹۸۱ ، صفحات ۲۸–۲۹، ۵۲
https://en.wikipedia.org/wiki/USS_Liberty_incident#CITEREFGerhardMillington1981
[11]: *امور عمومي در حادثه ناو یواس‌اس لیبرټي*
https://web.archive.org/web/20130713013349/http:/www.dod.mil/pubs/foi/operation_and_plans/USS_Liberty_Pueblo_Stark/607.pdf
[12]: ګرهارد و میلینګټون ۱۹۸۱، ص ۲۹
https://en.wikipedia.org/wiki/USS_Liberty_incident#CITEREFGerhardMillington1981
[13]: د ۱۹۶۸ز. کال د می په میاشت کي اسراییل د ۳/۳۲ میلیونه امریکایي ډالرو د غرامت په توګه د هغو ۳۴ وژل شوو کسانو کورنیو ته ورکړل. او د ۱۹۶۹ز. کال په مارچ کي اسراییلو ۳/۵۷ میلیونه ډالر هغو ۱۷۱ ژوبلو کسانو ته هم ورکړل.
دا شان په ۱۹۸۰ز. کال په دسمبر کي، اسراییلو ۶ میلیونه ډالر بېړۍ ته د زیان اړولو له کبله ورکړل او د ۱۳ کلونو ګټه هم په کي شامله وه چې د ۲۰۲۴ز. کال په ارزښت ۲۲/۹ میلیونه ډالر کیږي
[14]: *لف چ* اورن ۲۰۰۰.
[15]:Lenczowski, George (1990). American presidents and the Middle East. Duke University Press.p.110-112
https://en.wikipedia.org/wiki/USS_Liberty_incident#CITEREFLenczowski1990
[16]:https://www.britannica.com/event/USS-Liberty-incident

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د امریکا د ولسمشر لەخوا په سپینه مانۍ کې ورکول کیږي، ورنه کړ.[17] نوموړی مډال د واشنګټن د سمندري ځواکونو د انګړ په یوه پټه غونډه کې د سمندري ځواکونو وزیر لەخوا ورکړای شو.
د لیبرټي ببړی نور کارکوونکي او مانوګان هم د برید پر مهال د دوی د زړورتیا او تر هغې وروسته د خپلو کړنو له امله وستایل شول **خو په ډېرو ستاینلیکونو کې د برید کوونکي هېواد نوم (اسراییل) نه ؤ لیکل شوی.**
په داسې حال کې چې په ۲۰۰۹ز. کال کې چې د سپینو زرو د ستوري یو مډال د لیبرټي ببړی یو تن کارکوونکي (ټري هالباردیر) ته ورکړل شو چې په زړورتیا یې د توپونو او ماشینګنو تر اور لاندې د ببړی ارتباطي انتن رغولی ؤ، **د هغه په ستاینړلیک کې اسراییل په بنکاره د برید کوونکي په توګه یاد شوی وو.**[18]

(توماس هینمن مورر) چې د امریکا د ګډو ځواکونو اووم مشر ؤ، **ولسمشر لیندن جانسون په دې تورن کړ چې هغه د اسراییلو لەخوا پر ببړی باندې په لوی لاس د برید مسؤلیت پټ کړی ؤ او هڅه یې کړې وه چې دا مسئله پټه وساتي.**[9]

سره له دې چې په امریکا کې ځینو محاکمو څېړنې وکړې، دوی ته څرګنده شوه چې د اسراییلو وسلەوالو ځواکونو پوره وخت درلود چې ببړی په سمه توګه وپیژني. **خو دغې محکمې د پربکړې وس نه درلود.** د لیبرټي ببړی د پخوانیو کارکوونکو ټولنه وایي چې د امریکا کانګرس او نورو ادارو څېړنې په ریښتني توګه د برید په اړه نه وی... دوی وایي چې دا څېړنه په ببړه شوې او یوازې په لسو ورځو کې پای ته رسیدلې، په داسې حال کې چې د څېړنو مشر، سمندري جنرال (ایزاک کید) ویلي وو چې د سمې څېړنې ترسره کول به لږترلږه شپږ میاشتې وخت ونیسي. **د دې لنډې څېړنې دنده یوازې دا وه چې مالومه کړي چې د لیبرټي ببړی کارکوونکو (عملیې) په دغو وژنو کې ونډه درلودله او که نه.**[19]

د امریکا د دفاع وزارت د ۱۹۶۷ز. کال د جون ۲۸مې نېټې د څېړنیزې ډلې مشر (کلارک کلیفو) راپور په پایله کې په زغرده ویل شوي وو چې اسراییل مسؤل او باید عاملانو ته سزا ورکړای شي:**«بې دلیله برید پر لیبرټي یو بنکاره او لویه بېپروایي وه چې د اسراییلو حکومت باید په بشپړه توګه مسؤل وپیژندل شي او هغه نظامیان چې په دې برید کې بې لاس درلود، باید سزا ورکړل شي.»**[20]

له بل پلوه اسراییلي صهیونستي عدلي ادارو داسې بېبنسټه او بېمنطقه څرګندوني وکړې، لکه په رنا ورځ چې د یو په چا سترګو کې خاوري اچوي، دوی وویل چې **«د دی ټولو ستونزو پېره د هغه وخت د جګړې په بهیر کې د اسراییلي ځواکونو د سترګو د کمزورتیا او سترېا وېلل، کله چې پیلوټان ډېر پروازونه کول او ډېر سټرې زیات سټرې وو.»**[21]

د اسراییلو بروشلمي قاضي خپلو پلټنو او شواهدو ته په کتو پربکړه وکړه چې **«ما هېڅ داسې سرغړونه چې د عدالت د معیار خلاف وي او د چا محاکمه توجیه کړي، نه ده موندلی.» داسې چې هغه د اسراییلي پوځ د هېڅ یوه غړي په اړه د دی برید په تړاو کومه بېپروایي ونه موندله!؟**[22]

---

[17]: https://web.archive.org/web/20070623031055/http:/www.cmohs.org/medal.htm
[18]:Deadly attack on USS Liberty gets new attention, By Hal Bernton, The Seattle Times. https://web.archive.org/web/20090612021322/http:/seattletimes.nwsource.com/html/localnews/2009316427_liberty09m.html
[19]: https://web.archive.org/web/20100326100232/http:/www.ussliberty.com/nci.pdf
[20]:The USS Liberty Incident: "The USS Liberty: Case Closed" by Michael B. Oren. https://www.jewishvirtuallibrary.org/quot-the-uss-liberty-case-closed-quot
[21]: But Sir, It's an American Ship.' 'Never Mind, Hit Her!' When Israel Attacked USS Liberty.Ofer Aderet https://www.haaretz.com/us-news/2017-07-11/ty-article/but-sir-its-an-american-ship-never-mind-hit-her/0000017f-e48c-d7b2-a77f-e78f76800000
[22] : Scott, James (2009). The Attack on the Liberty: The Untold Story of Israel's Deadly 1967 Assault on a U.S. Spy Ship. Simon & Schuster,p.263 https://en.wikipedia.org/wiki/USS_Liberty_incident#CITEREFScott2009

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د اسراییلو د دا ډول پرېکړو او څرګندونو په غبرګون کې ځینو امریکایي چارواکو غبرګونه ښکاره کړل، په ۱۹۹۱ز. کال کې، (دین راسک) چې هغه مهال د امریکا د بهرنیو چارو وزیر ؤ، داسې ولیکل: **زه هېڅکله د اسراییلو څرګندونې نه منم، هغوی په دوامداره توګه هڅه کوله چې لیبرټي له منځه یوسي او ډوبه یې کړي، دا پېښه هیڅکله تصادفي برید یا د یو ځایي قوماندان د ناغېړي له مخې نه وه. موږ په ډیپلوماټیکو چینلونو کې د هغوی له څرګندونو انکار کړی دی. ما هغه مهال پر هغوی باور نه درلود او نن ورځ هم باور نه لرم. دا برید یو شرموونکی برید دی.»**[23]

د امریکا د سمندري ځواک پخوانی بریدمن (جیمز انس) چې د برید پر مهال د لیبرټي بېړۍ یو ټیټ پوړی کارکوونکی ؤ، **(پرلیبرټي برید)** په نوم یو کتاب ولیکه چې په هغه کې یې دا پېښه تشریح کړي ده او لیکلي یې دي چې **«دا برید یو قصدي عمل ؤ.»**[24]

جیمز انس او (جو میدورز) نومي چې هغه هم له برید څخه ژوندي پاتې شوي کسان دي او د دې پېښې په اړه یوه وېبپاڼه[25] هم چلوي، وایي چې د دې برید د قصدي توب پېژندل د لیبرټي بېړۍ د پخوانۍ عسکري ډلې رسمي دریځ دا دی **چې دا برید د اسراییلو لهخوا یو قصدي عمل ؤ.**[26]
همدا شاه د پېښې ژوندي پاتې شوي کسان او د دوی کورنۍ هم په دې باور دي چې **اسراییل پوهېدل چې دا بېړۍ امریکایۍ ده. هغوی د لسګونو کلونو په اوږدو کې د کانګرس د یوې بشپړې پلټنې غوښتنه وکړه خو بریالي نه شول.**[27]

د امریکا د حکومت ډېرو لوړپوړو چارواکو دا شکونه په خصوصي توګه له یو بل سره شریک کړل. دNSA رییس، ډګرجنرال کارتر، په ۱۹۸۸ز. کال کې په یوه مرکه کې وویل:**«زه باور لرم چې دا بریدونه په بل نوم نه شي یادیدلی، پرته له دې چې پلان شوي وي.»**

لنچوفسکي د انس د کتاب په استناد وایي: **د لیبرټي بېړۍ کارکوونکو ته سخت امر شوی ؤ چې د برید په اړه هېچا ته څه ونه وایي او د سمندري ځواکونو څېړنه په داسې ډول ترسره شوه چې د پټولو په نوم مشهوره شوه.**[28]

په ۲۰۰۲ز. کال کې، کاپیټان (وارد بوستون) چې د امریکا د سمندري ځواک د حقوقي څانګې غړی او د څېړنیزې محکمې سلاکار وویل چې **د څېړنیزې محکمې موندنې د دې لپاره وې چې د اسراییلو د قصدي برید پټولو لپاره کار وکړي، هغه برید چې اسراییلي ځواکونه پوهیدل چې بېړۍ امریکایۍ ده.**

په ۲۰۰۴ز. کال کې، کله چې د (ای. جی کریستول) لخوا د (لیبرټي پېښه) په نوم کتاب خپور شو، نو وارد بوستون هغه کتاب **«د حقایقو د پټولو یوه بېشرمانه هڅه»** وبلله، هغه وو چې بوستون یو سوګندلیک ولیکهٔ او لاسلیک یې کړ چې په کې ویل شوي وو: **د سمندري ځواکونو سپهسالار (کید) هغه ته ویلي ؤ چې حکومت ورته ویلي چې د پېښې په اړه درواغ ووایي او راپور ورکړي چې برید یوه تېروتنه وه. خو بوستون او کید دواړو باور درلود چې برید قصدي ؤ.**[29]
لنډه دا چې ځیني داسې پوځي او استخباراتي کارکوونکي دې ته حاضر شول چې په انجیل، تورات او قرآن کریم باندې قسمونه وکړي چې برید عمداً اسراییلي صهیونستان کړی دی.
په ۲۰۰۷ز. کال کې یو شمېر پخوانیو نظامي او استخباراتي کارکوونکو (شیکاګو ټریبیون) ورځپاڼې ته وویل چې هغوی داسې مخابراتي اړیکې اوریدلي دي چې ښیي **اسراییل پوهېدل چې پر یوې امریکایي بېړۍ برید کوي.** (الیور کربي)

---

[23]:_ As I Saw it. (1991). Dean Rusk and Richard Rusk, Pinguin Books, P.388 (cited to this article from Wikipedia)
[24]:Ennes, James M. Jr (1987). Assault on the Liberty: The True Story of the Israeli Attack on an American Intelligence Ship. New York: Random House.
[25] https://ussliberty.org/
[26] :https://web.archive.org/web/20111206122547/http:/www.usslibertyveterans.org /
[27]:https://www.britannica.com/event/USS-Liberty-incident
[28] :Lenczowski, George (1990). American presidents and the Middle East. Duke University Press.p.110-112
[29]:Washington Report on Middle East Affairs, March 2004, page 10 | Special Report| Declaration of Ward Boston, Jr., Captain, JAGC, USN (Ret.)
https://www.wrmea.org/2004-march/declaration-of-ward-boston-jr.-captain-jagc-usn-ret.html

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

چې د NSA عملیاتو مرستیال مشر ؤ وویل چې **«زه حاضر یم پر یو شمېر سپیځلو کتابونو باندې قسم وخورم چې هغوی [اسراییل] ښه پوهېدل چې بېړۍ امریکایي ده.»**[30]

پر لیبرټي بېړۍ د اسراییلو لەخوا د بمبار په هکله دې پایلې ته رسیږو چې:

۱ــ د اسراییلو پوځي او استخباراتي اداري له وړاندې پوهیدلې چې یو.ایس.ایس لیبرټي بېړۍ د امریکا یوه کشفي بېړۍ ده.

۲ــ نوموړي بېړۍ د اسراییلو له اشغالي خاورې او د دوی د سمندرغاړې څخه لېرې، د مصر د (عریش) ښار په شماللوېدیځ کې، **په بین‌المللي اوبو کې ولاړه وه** چې اسراییلو ته هېڅ ډول ګواښ نه ؤ متوجه.

۳ــ **لیبرټي بېړۍ د امریکا بیرغ پورته کړی ؤ او د بېړۍ پر ارخونو د پېژندنې لپاره په غټو، غټو ټکو د (GTR-5) لیکل شوي وو** چې له هوا، ځمکې او سمندر څخه په څرګنده توګه ښکاره کیدل. کله چې د اسراییلو کشفي الوتکې د بېړۍ پر سر تاؤراتاؤ شوې او پر بېړۍ یې د امریکا بیرغ او نورې نښې ولیدلې، نو پوره ډاډ یې ترلاسه کړ چې دا یوه امریکایي بېړۍ ده.
د اسراییلو پر کشفي الوتکو سربېره، د اسراییلو ګرځندیو کوچنیو جګړه‌ییزو بېړیو په داسې حال کې برید وکړ چې **د لیبرټي بېړۍ (GTR-5) نښې په څرګنده په رنا ورځ لیدلې.**

۴ــ اسراییل لا له وړاندې له امریکایانو څخه ناهیلي شوي وو چې په شپږ ورځنۍ جګړه کې له دوی سره مرسته نه کوي، مرسته خو پر ځای پرېږده، **اسراییلو موندلې وه چې د روانې جګړې پر مهال، د همدغې بېړۍ څخه د پارازیټ په څېرولو سره، د دوی مخابراتي اړیکې ګډوډې کیږي.**

۵ــ کله چې اسراییلو ونه کړای شول بېړۍ ډوبه کړي **نو ټولو لوړ پورو چارواکو ښېنې وغوښتلې او په چټکۍ سره یې د غرامت ورکولو وړاندیز هم وکړ.**

۶ــ اسراییلي محاکمو د دومره لویې غمجنې **پېښې په تړاو هېڅا ته سزا ورنه کړه،** ځکه چې دا برید د صهیونستي پوځ لەخوا تریب او د لوړپوړ چارواکو لەخوا منظور شوی ؤ.

۷ــ اسراییلو چې له پخوا څخه یې د مدیترانې په سمندر کې پر امریکایي اهدافو د برید پلان درلود، په واشنګټن کې د اسراییلو سفیر، له جګړې وړاندې، د مې په ۳۱مه نېټه د امریکا د بهرنیو چارو مرستیال وزیر ته ویلي وو چې که جګړه پیل شي، **موږ به په سیمه کې له امریکایي ځواکونو سره هیڅ ډول اړیکې ونه لرو.** دا څرګندوني د دې لپاره وې چې په راتلونکي کې چې کله دوی په امریکایي اهدافو برید وکړي نو دا به یوه ښه پلمه وي.

د پورته دلایلو پر بنسټ ویلی شو چې اسراییلي ځواکونه په دې پوه وو چې دا بېړۍ د امریکا په دولت پورې اړه لري. دوی غوښتل چې نوموړي بېړۍ ډوبه کړي.

ښه نو اوس پوښته دا ده: سره له دې چې اسراییل پوهیدل لیبرټي بېړۍ د امریکا د سي.ای.ای یوه استخباراتي بېړۍ ده، نو ولې یې په لوی لاس او په قصدي توګه بمبار او ډوبوله؟

ځواب یې ښکاره دی: **اسراییلو غوښتل لیبرټي بېړۍ ډوبه کړي او د بېړۍ هېڅ یو کس هم باید ژوندی ونه ژغورل شي. وروسته ووایي چې مصریانو د امریکا پر بېړۍ برید کړی او ډوبه کړي یې ده. او له دې لارې امریکا له مصر سره په جګړه کې ښکېل او د ځان په ګټه یې وکاروي.**

[30]:https://www.britannica.com/event/USS-Liberty-incident

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

خو د اسراییلو دغه شیطاني هیله سرچپه وخته او د دغه عمل د پټولو لپاره یې د امریکا لوړ پوړي کسان، د ولسمشر جانسون په ګډون له بېلابېلو شیطاني لارو څخه د ځان پلویان وګرځول چې څه ډول درواغ به اسراییلو ویل، امریکایي چارواکو به د دوی درواغو ته د رښتیاوو بڼه ورکوله، په داسې حال کې چې ډېرې امریکایان او نړېوال پوهیدل چې رښتیا څه دي.



(د امریکا یو.اېس.اېس، لیبرټي ببړۍ انځورونه)

نېټه: ۱۴۰۴/۴/۳۱ل. ل

نور بیا

د ښاغلي محمد انور اخړ نورې لیکنې په دې لینک کې ولولئ.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ